**د اردن اقتصاد په کوم لوري روان دی؟**




د اردن پخواني لومړي وزير عبدالرووف الروابده په ۱۹۹۶م د جون په ۱۳مه د استازو په مجلس کې د عمومي مالياتو او اضافي مالياتو د قانون د اعلانولو پر مهال استازو ته په خبرو اترو کې وويل: «د اردن اقتصاد اوس د احيا په خونه (سي پي آر عملياتو) کې دی». نوموړي په دغو الفاظو سره خپله موخه بيان کړه، د يادونې وړ ده چې د هغه خبرې لفظي تېروتنه نه وه چې تري تېر شوی وی او يا نه وی محاسبه شوی، بلکې هغه په اردن کې د ژوند د واقعيت څرنګوالی او د اجرايه پلاوي حالت، چې د اردن د ژغورلو مسوليت لري، بيان کړ. ناروغ شخص چې کله له روغتيا څخه ناهيلی شو د احيا (د سي پي آر د عملياتو) خونې د هغه د ژغورلو د ورستي کوښښ په توګه او يا لږ تر لږه عادي ناروغۍ ته د هغه د حالت راګرځولو ته راجع کېږي.

د اردن وزيران يو بل ته ناروغ او متزلزل اقتصاد په ميراث پرېږدي، د اردن د اقتصاد په تړاو زيات بې ګټې او بې پايلې کنفرانسونه او جلسې دايروي؛ ځکه د دولت د بوديجې د کلني توازن کچې تغير نه دی کړی، په داسې حال کې چې بهرني پورونه او مرستې دوام لري، خو د دولت بوديجه له کمښت سره مخ ده، د پورونو او همدارنګه د بيکارۍ او فقر کچه لوړه شوې او سوداګرۍ نامنظمه شوې ده

د ستونزې اساس او بنسټ د دوی فکر دی چې له ژوند څخه د دين د جلاوالي عقيده ده، له ژوند څخه د دين جلاوالی عقيده د تدين هغه غريزه چې انسان له حيوان څخه بېلوي، دوی ورته پاملرنه نه کوي که داسې نه وي، نو دا څه معنا لري چې د يو انسان ترکه او ميراث ميليونونو ډالرو ته رسېږي، سپيو او حيواناتو ته وصيت کوي، په داسې حال کې چې د هماغه شخص په شاوخوا کې خلک له لوږې سره مخ دي؟ دا څه معنا لري چې ميليونونه ډالر په لوبغاړو، ورزشي سياليو، جشنونو، شپنيو کلپونو او بې حيايیو لګول کېږي، په داسې حال کې چې ميليونونه انسانان له لوږې مړه کېږي؟! دا حالت په پانګوالی نظام کې دی.

خو اسلام چې د نړیوال او ابدي رسالت په توګه په ثابت بنسټ ولاړ دی، د ټولو خلکو لپاره رانازل شوی دی، چې دغه رسالت په خالق او مدبر الله او دا چې قران کریم د الله سبحانه وتعالی کلام او رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله سبحانه وتعالی له خوا ټول خلکو ته د پیغمبر په توګه رالیږل شوی دی، ایمان لرل دي، چې هغوی له ګمراهۍ او تیارو څخه د رڼا لور ته هدایت کړي، د الله د بندګانو له بندګۍ څخه د الله بندګي وکړي او د ژوند لپاره یې سعادت او د اخرت لپاره بریا ور په برخه کړي. الله سبحانه وتعالی له همدې عقیدې څخه چې د انسان له فطرت سره سمون لري او عقل ته قناعت ورکوي، نظامونه رامنځته کړي دي چې د انسان اړیکه له الله، له ځان او نورو خلکو سره تنظیموي، د بېلګې په توګه: د تدین غریزه یې په عقیده او عباداتو، د نوعې غریزه (جنسي) یې د نکاح په احکامو و... د بقا غریزه او عضوي حاجات یې د ملکیت اړوند احکامو او نورو احکامو لکه د ربا (سود) حراموالی او د جامو زېرمه کول او په ټولنه کې د مستحقو افرادو تر منځ د شتمنی د وېش لپاره د احکامو تشریع، د دې لپاره چې مال او شتمني یوازې په شتمنو پورې منحصره نه شي او د داسې ټولنې لپاره د احکامو تشریع چې په مهربانۍ، محبت او غمخوارۍ ولاړه ده، تنظیم کړي دي.

اشتراکیت (کمونیزم) د پانګوالو (د پانګوالۍ د ایډیولوژۍ پیروان) په ځانګړې توګه د امریکایانو له خوا له منځه لاړ، چې د له منځه تللو تر ټولو مهم دلیلونه یې په اقتصادي نظام کې ضعف او فساد و. د یادونې وړ ده چې نن ورځ د امریکا اقتصادچې د پانګوال نظام رهبري کوي د له منځه تلو په حال کې ده. د ډیموکراسۍ پټه څېره اوس د ښکاربدو په حال کې ده، د امریکا ظلم او بدمعاشي ټولو ته څرګنده ده او د پانګوالۍ د ایډیولوژۍ ناتوانایي یې پیروانو او ټولو نړیوالو ته چې باعزته او ارام ژوند به ورکوي، د پانګوالۍ د نظام د له منځه تللو پیل دی، خو بشپړ له منځه تګ یې د مسلمانانو د مخلصو بچیانو په مرسته د اسلام په بریا سره کېږي، ځکه چې اسلام داسې ایډیولوژي ده چې الله سبحانه وتعالی د نړیوالو لپاره د رحمت په توګه رالېږلې ده. اسلام یوازینۍ ایډیولوژي ده، چې بشریت د وضعي نظامونو له ګمراهۍ او تیارو څخه د اسلام رڼا او عدالت ته وربولي.

دا چې د اردن اقتصادي ډله چېرته روانه ده؟ او د هغو څېړنو پایلې او همدارنګه د هغو دلایلو ارزونه چې د اردن اقتصاد یې ناروغ او له ماتې سره مخامخ کړی دی او دا هېواد یې د احیا د خونې پر کټ څملولی، چېرته روانې دي، باید واضح شوي وي.

**محمد سالم**

**۲۰۱۸/۰٦/۸**